# دافغانستان ملی آرشیف



# دافغانستان ملی آرشیف

## د تاریخی مدارکو اواسنادو
## او
## خطی کتابونو ،خطاطی شو یوقطعاتواو
## مینا تورو نودرراټولو لو مرکز

دافغانستان ملی آرشیف دافغانستان او دنړی دنورو هیوادونو د خیړونکو او پلټونکو دعلمی او ادبی اړتیاؤ دترسره کولو دپاره تیاردی.
هغه ټول پوهان او محققان چه د افغانستان د ادبی ، تاریخی، سیاسی، اقتصادی او اجتماعی مسایلو په باره کښی خیړنی کوی ، د خپلو خیړنو دبشپړ ولو دپاره ، کولی شی چه دملی آرشیف له امکاناتو او همکاریو ښخه ګټه واخلی .



**دملی آرشیف دښکلی ماڼی ختیزه برخه**

# ۱

دثور ملی اودموکراتیک انقلاب دافغانستان دخلکودموکراتیک گوند (دهیواد کارگری طبقی اوټولو زیارایستونکومخکښی) په لاربښودنه خرنگه چه دتولید زاړه مناسبات او اړیکی له بیخه



دملي آرشيف ښکلې ماڼۍ يا زموږ د ګرانو داتيا کالو پخوا دزيار او زحمت په زړه پورې نمونه

وباسي او محوه کوي يې هماغسې يوه داسې ټولنه جوړوي چې هلته د فرد لخوا د فرد استثمار نه وي . همدغه رنګه دفيوډالي فرهنګ پرټولو ناوړو اړيکو يې کلک ګوذارونه وکړل چې دهغه پرځای دخلکو غوړيدونکی فرهنګ پياوړتيا ومومي ، وده وکړي، ميوه ورکړي او خلکو ته يې ګټه ورسيږي .

دهمدې له مخې وچې دثورله انقلاب څخه وروسته ټولو وروڼو مليتونو اود وروڼو مليتونو ژبواوفرهنګ ته ارزښت ورکړي شو. دسالمو مطبوعاتو بنسټ کيښودشواوښوونه او روزنه دټولنې دټولو محرومو طبقو په برخه شوه .

دافغانستان انقلابي دولت په ټيره بيا په نوي تکاملي پړاو کښې دهيوادلرغوني فرهنګي شتمنې ته اهميت ورکول دپاملرنې وړ ټکي وباله ترڅودهغې پرستنې باندې يوپرمختللي اوغوړيدونې فرهنګ جوړ شي اوسني فر هنګ سره دپروني فرهنګ ديالتيکي اومنطقي اړيکي دنوي انقلابي شرطونوسره هيڅکله له نظره ليرې نه دي ساتل شوي اوکوښښ کيږي چې زموږ لرغوني فرهنګ هرکله او دتل له پاره تـــر څيړنې قضاوت تحليل او تدقيق لاندې ونيول شي .

دهمدې له امله زموږ انقلابي دولت دټولواقتصادي برنامو او بنيادي چارو په څنګ کې دتيرو زمانو ميراثونو ته پاملرنه کوي اودملي آرشيف پرانستل ددې خبرې رښتيني شاهد دی .

پ په پخواني ټيټ او وراسته رژيمونه کې مذبوحانه هلې ځلې شوې وې چې تاريخي آرشيف دخوخطي نسخو سره جوړ شي چه هغه هم هيڅ عملي نه شو او تاريخي آرشيف پخپل حال ځانګړی او نيمګړی بې هويته اوبې سرنوشته پاتې شو .



**دملی آرشیف دماڼۍ یوه بله منظره**

دثور ملی او دموکراتیک انقلاب څخه وروسته دطلا عاتو او کلتور په وزارت کی زښت ډیر کوښښونه او ترو سه وسه نه سترې کیدونکی هلی ځلی وشوی چه دافغانستان ملی آرشیف جوړ شی او ددی هیلی دترسره کیدو دپاره یی په زرګونو سندونه ، تصویرونه ، د آوازونو فیتی ، تاریخی لیکونه ، خطی کتابونه دیحیی دکورنی دملی شوی مالونو څخه او هم دعدلیی وزارت دتمیز له ریاست او دلغوشوی ولسی او مشرانو جرګی نه لاس ته راوړل شوچه د افغانستان دد موکراتیک جمهوریت دملی آرشیف لمړنی تاداو او بنسټ کیښودل شی او دپوهانو او محققانو د استفادی لپاره پرانستلی شی .



**دیوی تزیینی الماری نمونه چی په د یوال کی ایښودل شوی ده**

داطلاعاتو او کلتور وزارت خوشحاله دی او ویاړی چه اوس وینی داهیله او ارمان په بشپړه توګه سرته رسیدلی او دافغانستان ملی آرشیف پرانستل کیږی • داطلاعاتو اوکلتور وزارت دټولو وطـــن پالو نکو او خارجی دوستانو څخه هیله کوی چه زموږ سره همکاری او مرستی وکړی ترڅو چه موږ وکولای شوو دهری ورځی په تیریدو لوسره دهمدی فرهنګی موسسی په شته منیو کی زیاتو الی واوړو اودګران هیواد واقعی تاریخ دهمدی فر هنګـــی شته منیو په پلوشوکښی تر پخوالازیات رو ښانه وبر یښی •



دپاك قرآن يومخ ددرى ترجمـــى سره چى دترجمى دانشاء سبـك
يې احتما لا پهٔخلور مه هجرى پيړى پوره اړه لرى



دملي آرشيف ديوه ‌سالون د پيښتو ل يو ه برخه چې دفلز پر مخ د نقاشۍ هنر له اتيا کاله پخوا څخه حکايت کوي

# ۲

په نني نړۍ کې په هغه نړۍ کې چه انقلابي پوهنه يکې د پراخوالي او دودې په حال کې ده د تاريخ او افسانې تر منځ د کرښې او پولې شعوري کشف او څرګندول او هغه افسانه او کيسه چه د امپرياليزم او دارتجاع جنايتکار لاس د کلو نو کلونو او پيړيو پيړيو څخه را په دې خوا د خلکو دستر ګوله ديدنه پټه ساتلې ده چه زمونږ خلک زياتره د ناپوهۍ او بيخبرۍ په حاکۍ وساتله شي تر خو بيا د استثمار لاندې راشي.

ددی دپاره‌چه دهغوتاریخی راز رازپیښوپه‌واقعی اسبابو اوعللو چه‌به‌تیرو نړدی اولیری وختو نوکی پیښ شویدی او ټولنیز احوال‌یې‌په هره زمانه کی‌متاثر کړیدی وپو هیږو. ددی دپاره چه په فرهنگی بدلونونو یاپـــه‌تیرو زمانو کښی دعلم او هنر په پرمختگ او وروسته والی اودهغو په عللو او عواملـــوپوهیږو • ددی دپاره چه دتاریخ په بیلابیلو زمانوکی په ټولنه‌کی‌دخلکو دوستان له‌دښمنانوڅخه اودټولنی خدمتگاران له ملی خیانتکارانو څخه بیل اوتفکیک شوی وی •

او په عمومی توگه :

دهری موضوع دپوهیدلو له پاره چه په‌یواوبل ډول دیو هیواد او دهغه دمنسوبـــو ملیتونو پوری مستقیمی‌یاغیر مستقیمی اړیکی‌لری په واقعی معنی سره دهغی علمی څیړنه دیوه کلی ضرورت او اساسی اړتیا په توگه‌پیژندله شویده چه علمی څیړنه هم دتاریخی مدارکواو اسناد وکتل او لوستل ایجابوی•

تاریخی اسناد وته مراجعه کول‌اوپه غورسره دهغو کتل او مطالعه کول او هم دهر سند مقایسه او مقابله دیوبل هسی سندسره‌چه‌هغه‌هم کټ‌مټ‌دلمړی سند په‌شان یو شی اویا دهغه نقیض وی اود نوموړی سند ونوله حتوی نه علمی نتیجی ترلاسه کول یواځنی لیاره ده چه دتاریخی حقیقتونو څیړونکی اوپلټونکی دواړ او باور آخرنی مزله ته رسوی او دسرگردانی او حیرانتیا څخه یی‌ژغوری•

همدغه وجه ده چه داوسنی‌نړی ویښ اوپوه‌خلك په تیره بیا خلقی دولتونه اود هغوی علمی مرکز ونه دخپلی ټولنی دتاریخی سندونوټولول او ساتل دټولنیز و چارو دترسره کولو په کار کی یوه ستره او شاخصه دنده‌اووظیفه گنی او تروسه وسه زیار باسی چه نوموړی تاریخی سندونه دطبیعی او مصنوعی‌ضرر او ورانی یاله مینځه وړلو څخه پـــه بیلابیلو وسیلو وژغوری • اود هیواد ټولوهغو کسانو ته چه‌دهیوادویاړ ونو او مفاخرو سره دزړه له کومی علاقه لری بلنه ورکوی‌چه ددغه گټور کار دسرته‌رسولو دپاره مرسته وکړی ـ هغه‌مرکزچه دتاریخی اسنادو دټولولواوساتلو په‌منظور جوړیږی دملی آرشیف پـــه نامه یادیږی •



داتیا کالو پخوا دقاضیانواومفتیانو دمهرو نو نمونی چی دحکاکی دشیوی اودسجعی له نظره دتوجه وړ او دهغه زمانی دخلکو دذوق نما ینده کید لای شی .

# ۳

هغه تاریخی سندونه چه دعلمی څیړنو دپاره ضروردی اساسا په دوه ډوله دی :

الف ـ هغه سندونه چه له یوه ځای نه بل ځای ته نه وړل کیږی چه په اوسنی ، اصطلاح یی غیر منقول بولی . لکه دهدیرو لوحی، دجوماتونو ، مدرسو ، خانقاهو، حوضونو رباطونو او کاروانسرایونو لیکل شوی تیږی او وقفنامی یا هغه فرمانونه چه په تیرو زمانوکی یی دډبروپر لویو تختوباندی کیندل او په خاصو ځایونو کی به یی دلیدونکو دپا ملرنی دپاره ایښودل .

ب ـ هغه تاریخی سندونه چه دهغوی وړل او راوړل او انتقال له یوه ځاینه بل ځاینه گران اوسخت کار نه دی او په اصطلاح منقول ورته وایو .





د سلطان حسین بایقرا فرمان پـه نستعلیق خط سره چې پـه (۹۰۱) هجری کی صادر شوی دی او اوس په ملی آرشیف کی دتاریخی سندونو په توگه ساتل کیږی .

دصحافی دهنر نمونه : دقرآن کریم‌دیوی نسخی روغنی لاکی رنگه‌پوښ‌دخرا سان دصحا فانو کار .

تاریخي منقول سندونه په ډول ډول دي‌چه‌ډیر مهم ډولونه یې دادي :

۱ـ کتاب، چه‌هغه هم په دوه‌برخو یعنـــی‌خطي او چاپي کتابونو ویشله کیږي او هره برخه یې دخاص کیفیت له پلوه لکه‌لیك،پانه‌اوکاغذ ، شکلیتوب اودلیك نیټه یـا د هغه دچاپ نیټه یا هغي یادوني چه دسړي په امضااولیك یادیوه سړي یادنامتو او مشهو ر و کسانو په‌مهر چه دکتاب په‌پوښ یاد کتـاب‌په حاشیه کې ثبت شویدي او هـــم دمولف یاټیکونکي یادناشر هنري یاعلمي‌تـــولنیزنوم‌درجه‌اوهـــم دهغوي دلیکني سبك دتحلیل او څیړني وړدي •

۲ـ دتیرو زمانو ورځپاني، جریدي، مجلـی،کالني او هغه چاپي خپروني چه دخاصو او مشخصو وختونو په مناسبت خپري شوي‌وي•

۳ـ اعلامیي ، ابلاغیي ، اعلانونه او هم‌دارنگه دولتي اعلانونه •

٤ـ فلزي او کاغذي او نور مسکوکات•

٥ـ هغه مهرونه چه‌په پخوا زمانوکي دامضاپرځای له هغو څخه کار اخیستل کیده •

٦ـ دپوستي ټکټونه •

۷ـ فرمانونه •

۸ـ تاریخي رسمي مکتوبونه•

۹ـ دتیرو وختونو دخلکو خصوصي لیکنـی‌چه په هغو کښي دیوټاکلي تاریخي سړي یا تاریخي پیښي بیان یا اشاره شوي وي‌اویاپه هغو کښي گومه امضایا مهر ولیدل شي چــه د یــو ي خـــا صي مـــو ضو عمنـل یـا نـه منلي اسانه‌کړي او یادا چـه په هغه‌لیك کښي‌لیکل شوي‌شیان دلیکونکي‌یادهغه دمخاطب دآدابو ، رسو مواویادژوندانه دعصر دپیږندني سره مرسته وکړي•

۱۰ـ دشخصي یا دداشتونو اودفترونوپاني‌اولیکل شوي یادگار ونه •

۱۱ـ دشخصي او رسمي حسابونو بنه •

۱۲ـ قبالي او شرعي او عرفي وثیقي •

۱۳ـ بیعت نامي •

۱٤ـ عمومي رضایتنامي •

۱٥ـ عمومي شکایتنامي •

۱٦ـ دولتی مقاولی او معاهدی•
۱۷ـ دانسابو شجری •
۱۸ـ دګورنی مالونو او شیانو فهرستونه اودهغوی دنومونو لیکنی•
۱۹ـ هغه عکسونه او رسمونه چه دتاریخی‌کسانو، ځیرو یاهغو تاریخی‌ځایونو او بناګانو پوری اړه ولری چه دهغوی اصل ته دسړی‌لاس نه رسیږی •
۲۰ـ دهغو کسانو غږ او وینا ګانی چه‌دوی‌په هغه یادغه سبب په ړوند کښی دشهرت خاوندان وو •
۲۱ـ خطاطی ، رسم او میناتوری ټوټی اوقطعی •
۲۲ـ حوالی ، رسید ونه او فراغتنامی •
۲۳ ـ علمی شهادتنامی اوتصدیق لیکونه•
۲٤ـ نظامنامی، اصو لنامی ، تعلیماتنامی‌او هغه لوحی اودستور العملونه چه دهغوی دانفاذ نیټه څه ناخه داوس نه یونسل دمخه‌وی •
۲٥ـ تاریخی او لرغونی جغرافیایی نقشی•
۲٦ـ هغه لوحی او کتیبی چه دهغو دلیکوړل اوراوړل له‌یوځای نه‌بل ځای ته‌ګران او ناممکن وی دیوه باخبره سړی په تصدیـق‌او امضا سره دهغو دسمون او داصل سره دهغو مطابقت •
او په کلی توګه :
هره هغه ټوټه اودکاغذ پانه چه دتیری‌شوی‌زمانی سره اړیکی ولری اودهغه لوستل او څیړنه دتاریخ دټولو مسائلواوبرخو یوه برخه‌او مسأله دمنلو اویاد ترد یدولودپاره ګټورو باله شی که دولتی وی او که شخصی په‌دی‌ارزی چه دتاریخی سند په نوم وساتلی شی •
له دغو څه دپاسه شلو تاریخی سند ونوله‌ډولونو څخه چه دتاریخی سندونو ستراو مهم سندونه دی (نه ټول ډولونه یی) اول ډول‌یی له کتاب څخه عبارت دی او هغه هـــم په‌دوه خطی اوچاپی برخو ویشله کیږی کـه‌څه هم دخطی نسخو ټولول اوساتل په‌هره ټولنه کی دمحیطی او ټولنیزو شرطونو له امله‌تر نور و محیطو نو توپیر لری • په دی معنی چه دځای دساتنی نسبی ټینګښت دمراجعینودشمیر زیاتوالی اوکموالی اودمطالعی ددایری تنګوالی اوپراخـــتوب داندازی پـه نـــظرکښی‌نیولو سره کله دکتابتونونو د مقرراتو تراغیز او تاثیر لاندی وی اودهغوی یوه برخه‌شمیرل کیږی (ځکه چه پرهغه باندی دکتاب عنوان صدق کوی) او کله‌بیاد تاریخی سندونوپه توګه دملی ارشیف دمقرر اتو تابع اودهغه

دمیرعلی هروی نامتو خطاط د نستعلیق دښکلی لیکنې یوه نمونه .



دشیخ سعد لدین انصاری دشور عشق د کتاب یو مرصعه او مذهبه‌سر لوحه چې په کابل کې مذهب شوی ده .





دپاك قرآن يو مخ په كوفي ليك سره چي په ۱۷ ذيحجه ۱۳۳۸ قمري كـي- دعبد الودود بن فتاح الدين دمسكو دښار د دوهمي شمارى دجـومـات امام دافغا نستان د استقلال په‌منا سبت امير امان‌الله خان ته دتحفي په توگه وركړل شوى دى .



دشور عشق د دیوان سر یزه‌چی‌تزیینات یی په کابل کی شوی دی.

برخه شمیرل کیږی (له دی امله چه هره‌نسخه‌او پانه یی دپانی‌اوکاغذ دجنسیت لیك،زوړتیا، یادلیك دود له مخه دکومی بلی نسخی سره‌ توپیرلری او ځانګړی‌اوجلاسند شمیرل کیږی) اوکله بیادواړه‌خاصیتونه‌ساتی• یعنی دکتابخانی‌برخه اودهغه ترمقرراتو لاندی وی مګر ساتنه یی‌دملی آرشیف په‌مرکز کی‌صورت مو مـــی‌چه‌دلزوم او وخت سره سم دملی آرشیـف دلو ستونکو سره مرستی وکړی •

دوهم دول یی‌چه ورځپانی، تاریخی جریدی‌او دهغوی په شان‌نوردی• داجتماعی او محیطی شرطونوپه پاملرنه هم دخطی کتابونو حکم‌لری‌او دخطی کتابونو نوموړی‌دری حالتونه وربانذی صدق کوی •

څلورم او پنځم ډول یی چه مسکوکات اومهرونه دی دهغوی دعلمی تعریف سره سم په موزیم کښی دساتلو وړ شیانو په کتارکښی راځی او که دهغوی هغه ګټی په نظر کښی ولرو چه دتاریخی مسائلو له مخه له‌هغوی څخه متصور دی نوپه آرشیـف کښی دساتنی وړدی مګر دهغوی‌ساتنه په موزیم‌کی‌کیږی •

نور ډولونه یی په عمومی توګه په ملی آرشیفو نو کښی ساتله کیږی•



# ۴

زمونږ گران هیواد افغانستان چه دایشا پهزړه کښی ځای لری او دآریانا ، خراسان او افغانستان په نومونو دتاریخ بیلابیلیزمانیاو دوری یی دډیر و پخوانیو او اوږ دوزمانو څخه پیل کیږی ، دخپلو ملیتونو دفرهنګی،اجتماعی اوسیاسی ژوندانهپه مسیرکی مختلفی دوری تیری کړی دی اودهغودو رو څخه یی‌دزمکی په سراو په زمکه کښی دننه یادګارونه پاته دی چه دغه ټول زمونږفرهنګی‌میراثونه‌دی •

ددغو ښکلو یاد ګار ونو چه هر یویی پهخپل وار ددی لرغونی خاوری دزیاراېستونکو کار ګرانو دذوق ، انـــدیښنی ، کار او زیاروښکارندوی‌دی دغیر منقول ډول‌یوه برخه یی‌د طبیعی پیښو لکه زلزله ، سیلاب ، اوړا خستوباد ، باران یاد پرد یود دښمنی یاد تیرو واکوالا نود بی خبری ، غفلت اوبی پروایی‌له امله له منځه تللی ده اود منقول ډول یوه برخه یی یاد دښمن لاس ته ورغلی اویاداچه‌ددوست ډوله دښمنانو په مرسته چه تراصلی دښمن هم ناوړه اوبدی بهر ته لیـــږ دول‌شویدی او اوس دپردیو فرهنګی خزانـــی او موز یمونه پـــه هغوی ښکلی دی • او هغه‌یوخه چه پاتی دی که منقول دی او که غیر منقول دهغوی جدی او دایمی ساتنه په کارده چه دناخاپی او احتمالی پیښو له زیان‌څخه خوندی وساتلی شی او دخپل مشابه شیانوپه سر نوشت اخته نه شی اود هغو کسانو

---

د قرآن کریم په یوه نسخه پوری مربوط لاکی رنګه روغنی پوښ د مرصع کاری په سبک .

د «خمسه نظامی» د نسخی یومخ دهرات د مینیاتور ګرانو کار په‌نهمه پیړی پوری مربوط .



له پاره چه غواړی ددیخاوری دربښتنیفرهنگیاجتماعی اوسیاسی واقعی تاریخ دحقیقتو نـو ارتباط او اړیکی ترغور، کتنی او څیړنـــی‌لاندی ونیسی گټور ثابت شی .

له دغو ارزښتناکو یادگارونو او نښوڅخه‌که څه هم یوه دپاملرنی وړه برخـه یـــی لکه چه وویل شوه اوس اوس له‌لاسه وتلی‌ده، مگربیاهم له‌نیکه مرغه خوشحاله یوهغه یوه برخه یی چه موږ ته راپاتی ده دومره‌ده چه‌کولای شی دڅیړونکودپلټنواو هلوځلو تنده ماته‌کړی او برسیره پردغه د هغوپه‌مینځ کښی داسی ارزښتناك سندو نه‌موندلای شـــو چـه زموږ دهیواد دتاریخ دبیلا بیلودورو دټولنیزو او اقتصادی سیستم دوضعی او کیفیت د روښانولـو دپاره به دڅیړونکـو اودپلټونکو اودپوهی او پوهنی مینانو سره به په ښه ډول مرسته وکړی .

په پخوانی تیتی او وراسته رژیمو نه کی‌گارونو ټولونه اوساتنه سربیره پـردی چــه د هیواد واقعـی تاریـخ روښـانــه کوی اودڅیړنی او پلټنی لیاری او اروی ، د هغـو کسانو په نسبت چی دخپل ژوندانه شته منی‌اوخپل ژوندون یی دهمدغه ډول یادگـارونو دمنځ ته راوستلو په لیاره کی پای ته‌رسولی‌او دخپل کاراوزیار حاصل یی دراتلونکـو خلکو دپاره چه نن موږ یو اوسبابه زموږزامن او بچیان وی په میراث راپریښی دی . دهغو په نسبت دحق، پیژندنی وظیفه به موهم‌ترسره کړی وی بناپردی هر خومره چه‌پـــه دی لیاره کښی زیـ‌نری هلی ځلی وکړوزموږدنده به‌په ښه توگه اجرا شی . او همدی حقیقتونوته‌دپاملرنی‌له‌مخه‌دافغا نستان‌دموکراتیك‌جمهوری دو لت پـــه تیـره بیادثور دانقلاب دنوی تکاملی پړاو دبریالیتوب نه وروسته دهیواد دلرغونو آثارو د ساتلو د پاره چـه دهمدی خاوری دخلکوپه‌زړه پوری ارزښتناك‌میراث دی، هلی ځلی کړیدی اوځرنگه چه په سترگو لیدل کیږی په دی لیاره‌کی به دزیار اوکوښښ څخه لاس وانه خلی .



دملی آرشیف دخطی کتابونو اوتاریخی اسنادو دنندارتون تالار- په دغه ویتر ینو کی دافغانستان دتاریخ دمختلفو دورو مربوط دکتابونـو اواسنادو نمو نی د ننداری له پـاره ایښودل شوی دی .

خداوندا تو ایمان و شهادت
عطا دادی بفضل خویش ما را
وز انعامت همیدون چشم داریم
که دیگر باز نستانی عطا را
از احسان خداوندی عجب نیست
اگر خط درکشی جرم و خطا را



د تیری پیړی د نا متو خطاطامیر عبدالرحمن د نستعلیق خط یو
ښکلی نمونه چی د «سیاه قلم» په شیوه لیکل شوی ده .

په تیر مخ کی د سعدی دکلیاتــویو مخ لیدل کیږی چی‌د هغه‌دتذهیب
او میناتوری کار په تیره پیړی کی په کابل کی صورت نیولی دی .

# ۵

هغه‌مانۍ چه دفرهنگي ميراثونو او تا ريخي‌سند ونود ساتنې دپاره ټاكل شوې دي په سالنګ وات كي ده چه دكابل ښار يوه ښكلې‌تاريخي مانۍ ده‌اود اميرعبدالرحمن په زمانه‌كي جوړه شويده •

هغه‌ځاى چه‌دامانۍ ولاړه‌ده دهغې دجوړيدوپه‌وخت كي دخرمګرى بن (باغ چرمګرى)نوميده اودآب وهوا په‌لحاظ دكابل يو مشهور بـــن ښميرل كيده دماني دجوړيدو قطعي او حقيقې نيټه څرګنده نه ده خو ګمان كيږي چه د(بستانسراى) له جوړيدوڅخه وروسته به جوړ شوي وي • او څرنګه چه د بستانسراى دآبادولو نيټه (۱۳۱۰) هـ • ق كال وه چه دلمريز (۱۲۷۱) كال سره سمون خوري ، نوو يلاى‌شوو چه‌ددې مانۍ جوړيدل د (۱۲۷۱) كــال څخه تر (۱۲۸۰) كاله پورې‌بشپړ شوى دي‌چه‌داميرعبدالرحمن دمړينې كال دى •

ليرى څبره نه‌ده چه‌دمانۍ جوړښت به‌يوله‌هغو كسانو تر نظر لاندې پاى ته رسيدلې‌وي چه امير عبدالرحمن پخپلو يادداشتونو كـــي‌دمهندس په توګه دهغوى نومونه يادوى :

۱- مهندس عبدالرحمن خان •

۲- مهندس عبدالسبحان خان •

۳- ددولتي ودانيو دادارى رئيس ميرعمران•

٤- منشى نذير •

۵- منشى محمد بخش •

په‌هر حال داېوه داسي مانۍ ده چه نـژدې‌اتيا كاله دمخه‌دافغانستان دسلګونو خـوار-يكښمانو په‌هلو ځلو اوزيار ايستو په‌ډيره‌ښكلااوبرم جوړه شويده•

نوځكه دادتيرو خلكو يويادګار اودهغوكاراوزياريوه نخښه‌ده•

لكه څرنګه چه دځينو باخبرو كسانو څخه‌اوريدل شوى دي دامانـــى اصلا د امـــير عبدالرحمن دمشرزوى يعنې امير حبيب الـلـه‌كار ددفتر دپاره جوړه‌شوى وه•

مګر كله چه پــد يو وخت كي دانګلستان‌ددولت داستازو يوه ډله يـــوځــوو رخــى



د قلمداني د شيوی د صحافي دهنر نمو نه ـدغه پوښ د مثنوی په يوه نفيسه نسخه پوری اړه لري .

کابل ته راغلی وه نوموړوته پههمدی مانی کی دمیلمنو په توګه ځای ورکړ شوی ونووروسته له هغه (ددولتی میلمستون)په نامه یادیدله .

په دی کښی څه شك نشته چه حبیب‌الله د خپل پلار په زمانه کی ځانګړی دفتر درلود او دهیواد ځینی کارونه یی اجراکول اوپه حقیقت کښی یی دپاچهی تمرین کاوه . ځکه چه‌دملی آرشیف له اسنادواو بوشمیر لیکونوڅخه چه دده په لیك اولاس لیك موجود دی داخرګندیږی چه دځینولانجو ډیری کولودپاره یی خپل پلارته لیکلی پیشنهادونه ورکړی اوامیر عبدالرحمان په خپل لیك اولاس لیك ورته جواب لیکلی دی .

نوبنا یی چه دامانی دحبیب الله ترپاچهی دمخه څه موده دده دکار دفتر و. ظاهرا کله چه دحبیبیی ښوونځی تاسیس شو د امانی‌حربی ښوونځی و اووروسته له هغه کله چه دیحیی غداره‌کورنی دوخت داستعماری دستګاه‌په‌مرسته واکمنی ته‌ورسیدله اوپه خپله ناوړه حکمرانی یی لاس پوری کړ وخت په وخت یی دامانی دخپلو مقاصدو دپاره په کاروله .

په پای کی دابنګلی مانی دافغانستان دملی آرشیف‌له‌پاره وټاکله‌شوه چه‌دهغی‌ارزښتناکی فرهنګی خزانی او ذ خیری په علمی اصولووساتلی شی .

دمانی غولی یوښکلی وړکوټی بڼ دی چه‌لس زره اوپنځه سوه مربع متره پراخوالی لری. دابنګلی مانی چه په‌اصل پخی خښتی‌اوګچ پکښی کارشوی څلور زره اواته سوه اته اویامکعب متره فضایی نیولی اوددی‌سره‌چه دترمیم په وخت کښی اوسپنه او بتون پکښی کارشوی مګربیاهم اصلی بڼه اوپخوانی‌څیره یی نه ده اووښتی . هو هر بدلون او ښکلاچه دمانی دښینګښت په‌منظورمنځ‌ته‌راغلی‌په هیڅ وجه اودلیل سره دودانی سبك یی، چه‌دنړدی اتیاکالودودانیونمونه ده، بدله‌کړی نه‌ده- دافغانی ساختمانی‌موسسی‌زیاراپستونکو کارګرانو زښتیه ډیره پاملرنه کړی ده چه‌دمانی اصلی بڼه او دهغی کیفیت دپخوا په شان وساتله شی چه پدی باره‌کی ددوی مهارت اوزیاردستاینلو وړ بلل کیږی .



دزړو او ښکلو نسخو یو ویټرین‌دئیرو ځو هنر مندانو او پوهانو له آثار و څخه .



دقلمدانی اولاکی پوښ اوپه‌قرآنی‌آیاتو باندی‌مزینه حاشیه‌د قرآن‌کریم‌په یوه نسخه پوری مربوط دی .



دا هم د یوه بل سالون پیشتول‌دی چی زبر د ستو نقاشانو د فلـزپر مخ هنر نمایی کړی دی .

30

دهمدغی مانیتوله زیرزمینی اوتاکاوی چـــهٔسند ونود ساتنی ځایدیاودزینی ، دهلیزونو اودمانی دهری کوټی اوسطحی لــو ی لــو یسالونونه دمرمروپهخورانیو ویروفرش شو یدی او دفرهنگی ستر خزانی دساتنی اوهمدمانیـدبنکلا دساتنی له پارهچه دوه برخی :(تاریخی اسناد اودخطی نسخو کتابتون)دی دهلوځلوپه ترخ کی امنیتی ترتیبات هم په غور سرهپه نظر کـــــی نیول شویدی •

اوساوس چهدافغانستان دملی آرشیفتاسیسدپوهانو اوخیرونکویوه پخوا نه هیـــله وه، دیـــــو شمیر د پـــا ملرنـــی وړ تاویخیسند ونه دخوندی کولو دپاره چه زمونـــږ دهیواد دتاریخ په بیلابیلو دور و پوری اړهلریملی آرشیف تاسیس شویدی او دهغی پهځنگکښی دخطی نسخو کتابـــتون دخپلوارزښتناکو اونایابوذخیرواو خزانوسره د ټولو خیرونکو پلټونکو او پوهو خلکو له پـــارهچمتودی • هیله کیږی چه زمونږپر پوهنهمین اودخلقی هنر ، فرهنگ او تاریخ علاقه لرونکیهیواد وال له یوی خوازښتویرغور او پاملرنه وکړی چه زمونږ ددغو فرهنگی خزانو محتویاتله هر ډول احتمالی زیان څخه خوندی وساتی اولهبل پلوه دملی آرشیف په پیاو ړتیاکیداهدا او تحفی له لیاری یاد خطی کتابونواو هم تاریخی سند ونود پلور لوپه صورتدغیفرهنگی اوملی موسسی ته(چه پلورلییدهغی دخښتن په رضاییت سره سرته رسیږی)تروسه وسه زیار وباسی چه دافغانستاننوی دولت دخلکو رښتني دولت لوړی هیلی اوـارزوگانی سر ته ورسیږی چه له یوی خوا خلکو ته گور ، کالی او ډوډی برابروی اولهبل پلوه دخلکو انسانیتاریخ، هنر او فرهنگ پرمخ بیایی •



دغه ښکلی هنری اثر چی له لرگی څخه جوړ شوی دیو سالون چت دی.

دافغانستان ملی آرشیف

پته: سالنگ‌وات - کابل-افغانستان

دتیلفون نومری: ۲۵۰۱۵ او ۲۱۵۳۷

مطبعه دولتی

